**بسم الله لرحمن الرحيم**

**د روسيې د ګواښلو لپاره د انګليس هڅې**

**(ژباړه)**



خبر:

د انګلستان ساليسبوري ارام سلطنتي ښارګوټی د وروستيو دولتي تروريستي بريدونو له امله، چې په دغه هېواد کې وشول، د نړيوالو خبرونو سرټکی وګرځېد. د روس د پخواني جاسوس «سرجي اسکريپل» او د هغه د لور «يوليا» مسمومېدو د روسيې او انګليس تر منځ اوسنۍ خرابې اړيکې نورې هم خرابې کړې دي. د انګليس صدراعظم ترزامې روسيه د انګليس پر خاوره پر تېري تورنه کړه او دغه هېواد د يوه سخت غبرګون پر اخيستلو ګواښي، هغه ووېل: «موږ به هغه بې شرمانه هڅې ونه زغمو، چې زموږ په خاوره کې د خلکو د وژلو لامل کېږي. زموږ لپاره هېڅ ځواب د منلو نه دی. موږ دا کړنه د انګليس پر ضد د روسيې د ځواکونو غير قانوني استفاده بولو» خو په حقيقت کې انګليس د خپلو څرګندونو خلاف د روسيې د زيانمنولو لپاره کوم کار نه شي کولی.

تبصره:

د سړې جګړې په وخت کې انګليس د غربي پانګوالۍ په اډه کې د شرق کمونيستي بلوک پر ضد و. جاسوسي، هستوي او تر بحر لاندې مشهورې سلاوې د دغو دواړو هېوادونو تر منځ د پېژندګلوۍ اړيکې وې.

له روسيې سره د انګليس اړيکې د پخواني شوروي اتحاديې په له منځه تلو سره ښې شوې، خو کله چې ولاديمير پوتين د ۲۰۰۰م په لومړۍ لسيزه کې واک ته ورسېد او روسيې بيا په قدرت کې خپله اغيزمنتيا پيل کړه، دا اړيکې خرابې شوې. د پوتين له لوري د قدرت د ټينګښت پر مهال، «کې جې بي (د شوروي کمونيزم

د اتحادیې مخفي پولیس)» له کریملین سره ونښتل، هغوی باور درلود، چې د کې جي بي د قدرت اوج پای ته رسېدلی او د پوتین دوره د روسیې د تاریخ یوه بله اوږده او پرېښانه دوره ده. کریملېن دغه ماموران له یو اخطار وروسته، چې له سیاست څخه لرې اوسئ، یو په بل پسې له خپلې لارې لرې کړل. پوتین تر ۲۰۰۳م پورې خپل حکومت ټینګ کړ او د کې جي بي ماموران یې د روسیې له سیاست څخه بهر د یوه ټولي په توګه څنډې ته کړل.

انګلیس د روسیې د سیاسي موخو لپاره یو پټنځای شو. «ولادیمیر ګسنیسکي» او «بوریس بریزوفسکي» دواړه له روسیې څخه لندن ته وتښتېدل. نور ماموران لکه: رومان ابراموویچ د کریملین تر څارنې لاندې او له سیاست څخه بیرون پاتې شول. د کې جي پي یو شمېر پخواني ماموران، چې پر کریملین یې نیوکه کړې وه، انګلستان ته پناه یوړه. «سیرګي اسکریپال» چې اوس د مسمومیت له امله ومړ، د روسیې د نظامي استخباراتي اژانس(GRU) د برخې رسمي کارکوونکی و، چې په 1995م کې یې د انګلیس د استخباراتو M16 لپاره په پټه کار پیل کړی و. هغه په 2004م کې د خیانت په تور تبعید او ونیول شو. په پای کې اسکریپال په 2010م کې د بند د نیمایي مودې له تېرولو وروسته له هغه ځایه راووت. د امریکا فدرال پولیسو«اف بي ای» یو شمېر غیر فعال روسي ماموران په امریکا کې نیولي وو. سرې جګړې ته ورته په یوه صحنه کې اسکریپال د وین اتریش په هوایي ډګر کې له هغوی سره تبادله شو او غیر فعال ماموران مسکو ته ولاړل؛ خو د اسکریپال موخه په انګلیس کې سالسبوري وه.

ایا د اسکریپال خیانت په تېرو لسیزو کې دومره جدي ګڼل شوی، چې نن یې مرګ توجیه کړي؟ په 2006م کې د روسیې په واک کې و، خو مړ یې نه کړ. په وروستیو کلونو کې د زیاتو قتلونو په سرته رسولو او د جاسوسۍ د سوابقو په لرلو سره سره دیارلس کاله بند یو ناچیزه حکم دی. نو ځکه اسکریپال ته زهر ورکول د خیانت له امله نه؛ بلکې د نورو دلیلونو له امله و.

په روسیه او له دغه هېواده دباندې د کریملین مخالفین ورو ورو ووژل شول. د دغو عملیاتو ډېرې، په ځانګړې توګه د اناپالیتکوسیکا په نامه د ژورنالېست او د FSB(لېتوېنېنکو) د رسمي مامور وژنه قصدي طرحه شوې وه. د پېښې په ځای کې د لیتوینینکو په جسد کې د ۲۱۰ پولوتونیم د رادیو اکتیف ایزوتوپ له موجودیت څخه داسې ښکاري، چې عاملینو له ځانه یوه نښه پرېښې ده. د افرادو د وژولو لپاره نورې پټې لارې هم شته چې ډېرې وخت روسیه ترې کټه اخلي. نو ځکه په ماهرانه ډول د داسې وسایلو له استفادې، سخته نه ده چې دې پایلې ته ورسېږو، چې کریملین په قصدي ډول غوښتل په ډاګه کړي چې د لیتوینینکو د وژلو مسوول دی. همدارنګه پر اسکریپال باندې په برید کې له کمیابو زهري او عصبي ګاز څخه استفاده هم قصدي وه او د روسانو د یوې بلې نښانې د پرېښودلو ښېلګه ده.

په غرب کې د دې معاملې په ادامې سره روسیه غواړي خپلو استخباراتي افسرانو ته وښیي چې له روسیې سره خیانت یو لوی خیانت دی. دومره چې ان که کارکوونکي یې له روسیې څخه بهر هم ولاړ شي د غربي اطلاعاتو اژانسونه هم نه شي کولی چې له دوی څخه ساتنه وکړي، ځکه د روسیې اوږد او ځواکمن استخباراتي لاس به ور ورسېږي او دوی او کورنۍ به یې ووژني.

انګلیس یې هېواد ته تر اوسه د دې ډلې د ناروا پیسو په راتلو خوښ و. هغوی د لویو پروژو بودیجه تمویل کړه، د کلیدي املاک سکتور یې بیا جوړ او له سیاسي حزبونو سره یې په مېلیونونو مرسته وکړه. د روسیې پیغام هغو ته چې د دوی تبعید شویو ته د امن ځای د برابرولو قصد لري، له دې څخه زیات برېدونه دي.

انګلیس باید اوس پرېکړه وکړي چې هغه ناروا پیسې ورته مهمې دي چې له روسیې څخه ورته راځي که په سړکونو کې د «کې جي بي» د مامورانو جسدونه.

د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره

لیکوال: عدنان خان

۱۴۳۹هـ.ق، د رجب ۲مه

۲۰۱۸م، د مارچ ۲۰مه

ژباړن: بشارت